**د ترون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا**

**موضوع:** د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره امنیتي کمرې، د کمرو وسایل او تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروژې د اول او څلورم لاټ ترون د بصر تجارتي شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري څو د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره امنیتي کمرې، د کمرو وسایل او تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروژې د لومړي او څلورم لاټ ترون د بصر تجارتي شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 67601 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه يې د کابل ولایت، 10 ناحیه د حاجي یعقوب څلورلارې شهر نو کې ده، د لومړي لاټ د ترون ټولیزه بیه /7,200,000- اوه میلیونه او دوه سوه زره افغانۍ او د څلورم لاټ د ترون ټولیزه بیه 741,500 اوه سوه یو څلویښت زره او پنځه سوه افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ترون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، ترون به نه عقد کېږي.

دافغانستان بانک، ابن سناوات،کابل افغانستان/ تیلفون:0093(20)2104146/ ایمیل /info@dab.gov.af:ویب سایتwww.dab.gov.af
شبکه های اجتماعی فیسبوک – دافغانستان بانک / تویتر / AFGCentralbank@ – انستا گرامAFGCentralbank -